مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: وَاللَّاتِ وَالعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ، فَلْيَتَصَدَّقْ». «څوک چې په لات او عزا قسم وخوري نو لا اله الا الله دې ووايي، او که څوک خپل ملګري ته ووايي چې راځه قمار بازي وکړو نو صدقه دې ورکړي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: وَاللَّاتِ وَالعُزَّى، فَلْيَقُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ، فَلْيَتَصَدَّقْ». «څوک چې په لات او عزا قسم وخوري نو لا اله الا الله دې ووايي، او که څوک خپل ملګري ته ووايي چې راځه قمار بازي وکړو نو صدقه دې ورکړي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له الله تعالى پرته پر بل څه د قسم خوړلو په اړه خبرداری ورکړی؛ ځکه چې مؤمن يوازې په الله قسم کوي، او وايي چې څوک له الله پرته پر بل څه قسم وخوري د بېلګې په توګه: په لات او عُزا قسم وخوري - کوم چې دوه بُتان دي چې له اسلام څخه وړاندې يې په جاهليت کې عبادت کېده، نو بايد له خپل ځان سره ووايي چې: له الله پرته بل معبود نشته، نو پدې سره به له شرک څخه براءت وکړي او دا به يې د قسم کفاره شي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې څوک خپل ملګري ته ووايي چې: راځه قمار ووهو، او قمار دې ته وايي چې دوه يا څو کسان سره په پېسو قمار ووهي، نو چا چې جوار وګټله پېسې د همغه شوې، نو د دوی دواړو حالت لدې خالي ندی چې يا به ګټه کوي او يا تاوان-؛ نو ورته مستحب دي چې يو شی خيرات کړي تر څو يې قمار وهلو ته د يو بل بلنه وبخښل شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6379